مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهجان هاجره حرکت

۲۰۲۵/۰۹/۲۷

# د وطن لور یم

سپینه سپوږمۍ به شم د هسک زړه به راوځلوم
پر خپل پټي به شم زرغونه، بیا به يې وغوړوم

د ګران هیواد پر سپیره دښته به ګلان راشنه کړم
په خوب ویده به کړم بیدار غوږ ته به یې ورسوم

د وطن لور یم غږ مې ځي تر لوړو غرونو رسي
چاپیریال ټول راښورومه ژوند به وپنځوم

په تورتمنو کې ایسار ولسونه پورته به کړم
زه مې ټولنه کې د مور مقام به وارځوم

نړۍ کې هغه هیواد هله پرمختګ کړی دی
عالمې مور چې کړه پالنه، دا به ورنړوم

که دوزخي ملا تر اوسه کړي د درواغو فتوا
د خپلې لور د پوهاوي لاره به ورغوم

هر کال ځنډیږي ښوونځي راته تړلي ساتي
د تیارو دا خپرونکي، به راوتمبوم

ڼوک چې زما دا نوی نسل په تیارو ډوبوي
مخه به یې ډب له دې نادودو به یې را ګرځوم

د ولس د زغم ججوره نوره ډکه شوې ښکارې
د پیوستون په یو لوي غږ به یې راوهڅوم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ